جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

دافغانستان اسلامي جمهوریت
دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون اعلامیه

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ددغه کمیسیون د پنځو غړو په انتصاب سره د ثور د میاشتې په ۲۹ نیټه په خپل کار پیل وکړ او تر دې مهاله توانیدلی ،چې دهیواد په کچه د ولسمشر لخوا د ۱۱۳ تنو غړو په ټاکلو سره مرکزي او ولایتي دفترونه فعال، د کمیسیون طرز العمل جوړ او د مرکزي او ولایتي کمیسیونونو د غړواو لویو مدیرانو د زده کړې برنامه چمتو او تر راتلونکو څو ورځو پورې یې پلي کوي.

د ټاکنو د پړاو یوه مهمه پروسه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د ولسي جرګې د نوماندانو د لومړني لیست خپرول او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون لخوا د دغو نوماندانو په هکله اعتراضونو ته لاس رسي دی. په دغه پړاو کې چې د ثور د میاشتې پر ۲۲ نیټه پیل او د جوزا تر ۲۸ (د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د پنځو ورځو تمدید سره) پای ته ورسید د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ۴۲۸ نیوکوته د لاس رسي وروسته داسي پریکړه وکړه.

۱- د ولسي جرګې ۲۲۶ تنو نوماندانو ته چې د کاندیدانو لومړني لیست ته یې لاره پیدا کړې نه وه ۵ ورځې وخت ورکړ شو تر څو د نوم لیکنې په بهیر کې خپلې نیمګړتیاوې اصلاح کړي ،چې په پایله کې ۱۹۵ تنه نوماندان لومړني لیست کې شامل شول.

۲- د ولسي جرګې د ټاکنو په لومړني لیست ۸۹تنو نوماندانو ته ( چې وروسته ۸۳ تنو ته یې بدلو ن وکړ) چې په غیر قانوني ډلو کې د نوماندانو د غړیتوب د قومندانۍ لخوا د غیر قانوني وسله والو ډلو سره د تړاو په تور تورن پیژندل شوي وه ،۵ ورځې وخت ورکړ شو تر څو د نوموړي کمیسیون پر وړاندې خپل ځان څخه دفاع وکړي،چې په پایله کې ۷۸ تنه یې په غیر قانوني ډلو کې د نوماندانو د غړیتوب د قومندانۍ لخوا بی ګناه وپیژندل شول .

۳- د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ولسي جرګې د کاندیوانو په لومړني لیست کې د معرفي شویو نوماندانو په هکله د روان کال د ثور د میاشتې د ۲۲ نیټې څخه د جوزا تر ۲۰ نیټې پورې د اعتراضونود رسیدو او څیړنو وروسته په ټولیزه توګه دغه لیست کې د ۲۶۴۲ تنو معرفي شویو نوماندانو څخه( ۵ ) تنه یې د غیر قانوني وسله والو ډلو سره د غړیتوب په تور او ( ۷ ) تنه نوماندان یې د ټاکنو د نوم لیکنې په بهیر کې د دولتي رسمي دندې څخه د استعفا نه ورکولو له امله او یو تن یې د یو کس پر ځای د بل کس د نوم لیکنې په دلیل د ولسي جرګې په ټاکنو کې د نوماندۍ د حق

څخه محروم پیژندلي او نن یې خپله پریکړه د پلي کولو په موخه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته وړاندې کړ.

۴-د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د کاندیدانو په لومړني لیست کې شاملو ۸ تنو نوماندانو ته چې د جوزا په ۲۷ نیټه د په غیر قانوني ډلو کې د نوماندانو د غړیتوب د قومندانی د کمیسیون لخوا د غیر قانوني وسله والو ډلو سره د تړاو په تور تورن پیژندل شوي ددغه اعلامیې د خپریدو وروسته ۵ ورځې وخت ورکوي تر څو د نوموړي کمیسیون پر وړاندې خپل ځانه دفاع وکړي.

۵-د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د نوماندانو د وروستي لیست د خپریدو وروسته د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون چمتو دی تر څو د سرطان د دویمې نیټې څخه د سنبلې تر پنځمې نیټې پورې چې د نوماندانو د ټاکنیزو مبارزو پړاو دی ، د نوماندانو په هکله احتمالي شکایتونه وڅیړي او په هکله یې پریکړه وکړي.

۶- د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون هر هغه نوماند چې د ولسي جرګې د ټاکنو تر ورځې پورې د واک لرونکي محکمې لخوا د سیاسي او مدني حقوقو څخه د نقض په تور محکوم شي ، د افغانستان د اسلامي جمهوریت داساسي قانون د ۸۵ مادې د دویم بند پر بنسټ د نوماندی د حق څخه محروموي.

## د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون